مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۸/۲۰

# نوښتګر خبریال

عصمت بهیر په (۱۳۶۸) لمریز کال د وري میاشتي پر پنځمه نېټه د کندهارښار په دوهمه ناحیه کې د ښاغلي محمد ولي په کورکې دې نړۍ ته راغلی دی.

زده کړې یې په مشرقي عالي لېسه کې پیل کړې او په کال ( ۲۰۱۱) عیسوي کې له یادې لیسې فارغ سوی دی.

نوموړی په یوولسم ټولګي کې ؤ، چې په کندهارکې یې له هیواد راډیوټلویزیون سره په خپرونو او خبرونو کې کارشروع کړ، چې تر ( ۲۰۱۳) کال پورې په یاده اداره کې په کار بوخت پاته سو.

وروسته یې د کانکور ازموینه ورکړه اود کابل پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی سو.

د خپلي ځانګړي لیوالتیا له مخې یې یاد پوهنځي ته اوږه ورکړه او بالاخره په ( ۱۳۹۵) لمریز کال دلیسانس په کچه فارغ سو.

عصمت بهیر د شپاړسم ټولګي پایلیک یا مونوګراف د پښتو ژبې د اوسمهال نازکخیال شاعر محمد صدیق پسرلي د بیلا بیلو مرکو پر رابوځای کولو لیکلی او غواړي، چې خپل دغه مونوګراف په کتابي بڼه د پښتو ادب مینه والو ته هم وړاندي کړي.

ځوان خبریال بهیر له ژورنالیزم او ادبیاتو سره د ځانګړي مینې له مخې مطبوعاتو ته راغلی اود اتم ټولګي راهیسې یې هڅه کوله، چې له کومې رسنۍ یې ږغ خپور سي، خو په کور کې یې مشوق نه درلود.

له مطبوعاتو سره ددوی همدا لیونی مینه وه، چې په ( ۲۰۱۶) کال کې یې تر اوږدې ازموینې وروسته په کابل کې د(بي، بي، سي) نړیوالي خبري څانګې سره کار شروع کړ، چې لا تراوسه هم هلته دنده لري او هره شېبه پر بیلا بیلو موضوعګانو یې راپوروونه خپریږي.

دی وایي، ځانګړی ایډیال خبریال نه لرم، خو په ( بي بي سي) پښتو څانګه کې یې د ډاکټرداؤدجنبش او ډاکټرداود اعظمي ږغونه او کارونه ډېرخوښیږي.

ددې پوښتني په ځواب کې، چې د رسنیو په ډګر کې مو په کومه څانګه کې کار کول پر زړه ښه لګیږي؟

دی وایي: « د BBC خبریالان باید ټوله Multi Media یا د ژورنالیزم په بېلا بېلو برخو کې د کار کولو وړتیا ولري. یعني په راډیو، ټلویزیون، انلاین او ډیجیټل په برخو کې تکړه وي اوزه د خدای په فضل اود یارانو په دعاء سره په ټولو یادو برخو کې هوسایم او هڅه کوم، چې ځېرنیز کارونه له همدې لارې ولس ته وړاندې کړم« .

زموږ ددې اوونۍ مطبوعاتي ځیره زیاتوي، په مطبوعاتي ډګر کې ډېروکسانو ورسره مرسته کړې اولاهم د ملګرو سره په مشوره خپل کارونه مخ ته بیایي او زیاتوي، رسنیزکارونه، چې څومره په مشوره وي، هغومره بریالي وي او ددې ترڅنګ د مطبوعاتي کارونو د چټکتیا لپاره د خبریالۍ کتابونه، مقالې او پر دې سربېره د ( بي بي سي) د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

ژورنالیزم انلاین اکاډیمي هم تعقیبوي، چي په وینا یي دغه ډول مطالعې یي پر ورځنیو مطبوعاتي کارونو خورابنه اغیز کړی دی.

بهیر زیاتوي، تر اوسه یې لا د ژورنالیزم په اړه مقاله او کتاب نه دی لیکلی خو هر هغه څه چي په ورځني کار کي د ژورنالیزم په ډګر کي زد کوي، د خاطراتو په کتابچه کي یې لیکي،شاید یو وخت یي د کتاب په بڼه چاپ کړي.

د خبریالی د خاطرو په اړه یې راته وویل:

«زما په غالب ګومان ( ۲۰۱۲) کال به و، چي دلته په کندهارکي مي له هېواد ټلویزیون سره کار کوی، د هنرمند په نوم یوه خپرونه مي جوړول، نو په دې خپرونه کي مې د (بي بي سي)راډیوډپښتوڅانګي له پیاوړي پروډیوسر ډاکتر صاحب محمد داود جنبش سره دغه هنرمند خپرونه کي مرکه وکړه،خپرونه، چي خپره سوه،نو ډېر خلکو ټلیفونونه راته وکړل، تشویق یې کړم، ویل ډېر بلا یې جنبش صاحب دې چیري پیدا کړی؟

جنبش صاحب خو ډېر مشهور خبریال دی، ډاکتر صاحب داود جنبش تر هغه مهاله پر ټلویزیون چا نه و لیدلی، خو په راډیو کي یې غ د ډېرو پر غوږونو خوږ لګېدي. باور وکړم اوس له جنبش صاحب څخه شرمېږم. نو پوهېږم په کوم جرئت ما له هغه سره مرکه وکړه او څه به مي ورسره ویلي وي. کله نا کله سړی په ماشومتوب کي دومره جرئت وکړي چي وروسته ور ته حیران وي. البته زه د مرکي له کیفیته نارضا نه یم. مرکه ښه راغي خو هغه مهال زما او ډاکتر صاحب جنبش د پوهني او تجربي تر منځ ډېر توپیر.»

زموږ ددي اوونی کندهارمیشتی مطبوعاتي وایي، له هغه وخته، چي له ( بي بي سي) نړیوالي راډیو سره یې کار پیل کړی، په سلهاوو راپورونه یې جوړ کړي، خو په دې وروستیو کي یې په کندهارکي د نوي کال په شپه د سمنو پخولو په اړه او یوبل راپور، چي ( یوکندهاری نان وایي د بي بي سي راډیو د خپرونو دیرش کلن ارشیف لري) په راډیو، ټلویزیون او ویبسایټ کي زیاتو خلکو خوښ کړی او دی هم وایي، چي له دواړو راپورونو راضي دی او په دفتر کي هم د همکارانو لخوا ستایل سوی او ځیني وخت په ټوکي هم ورته وایی، چي « سمنو موږ دي منو!» عصمت بهیر هم مطبوعاتو ته نه لاسرسی د خبریالانو او مطبوعاتیانو په وړاندي یوه لویه ستونزه یادوي.

دده په خبره ځیني دولتي ویندویان تل هڅه کوي، چي له خبریالانو سره د مرکو پرمهال اطلاعات پټ کړي او په دې ډول خلک بې خبره وساتي، مګر مسلکي خبریالان یوازي د ویندویانو پر ورکول سویو اطلاعاتو بسنه نه کوي، د موضوع په اړه خپله ساحي ته ځي اود خلکو د سترګو لیدل حال هم په راپور کي خپروي.

زما لویه هیله داده، چي د ژوند تریایه مسلکي خبریال پاته سم، ترڅو ټولني او خلکو ته د خپل دغه سپېڅلي مسلک له لاري په رښتیا سره خدمت وکړم او زما د خدمت پر بنسټ په ټولنه کي مثبت بدلون راسي.

عصمت بهیر په ( ۲۰۱۷) کال کي واده کړی اود واده ثمره یې د ( پاچا خان) په نامه یو زوی دی.

د لیکوالی په برخه کي ښاغلي بهیر په ( ۲۰۱۲) کال کي د کندهاري شاعرانو د غوره شعرونو ټولګه ( لابه ډېرګلونه وا سي په دې باغ کي) هم چاپ او خپور کړی دی او هڅه کوي، چي د خپلو شعرونو یوه ټولګه هم چاپ کړي.

۸ – می – ۲۰۲۱ کندهار ښار



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ